# د لروبرو پښتنو په روان ناورين
# پوهنيز (علمي) او څېړنيز سيمينار پرېکړه ليک

اداره

کولن / جرمنی
22.05.2009

لکه څنګه چې ټولو ته ځرګنده ده، د څو کالو راهسې په هېواد کښې روانه جګړه له پخوا څخه د یو جوړ شوي پلان له مخې د پښتون قوم لوئے کور ته راټوله شوې ده.

په دغه تپل شوې جګړه کښې د ډيورنډ کرښې دواړو غاړو ته پراتهٔ اولسونه هره ورځ وژل کېږي، اقتصادي بنسټونه ئې ړنګېږي، د ښوونې او روزنې مرکزونه ئې سوځول کېږي. ماشومان او ځوانان ئې له زدکړې پاتې کېږي او د انساني ژوند د پرمختګ ټولې لارې ئې تړل کېږي.

په دې حواله په کولن جرمنۍ کښې په دويشتمه مۍ کال ۲۰۰۹ د پښتنو د تنظيم- Pashtoons Social Democratic Party PSDP له خوا يو سيمينار وشو. په دغه سيمينار کښې په بيلابيلو اروپائي هېوادونو کښې ميشت د لرې او برې پښتونخوا ګڼو پوهانو او مېلمنو ګډون کړے ؤ.

په سيمينار کښې په لره او بره پښتونخوا کښې د روانې جګړې په علتونو او له هغې څخه د خلاصون په لارو چارو اوږدهٔ څېړنيز بحثونه وشول




او په پائے کښې د سيمينار ټولو ګډونوالو په پوره اتفاق سره لاندينے پرېکړه ليک تصويب کړو:

۱. مونږ د افغانستان او پاکستان له حکومتونو او هم دارنګه په سيمه کښې د ميشتو نړيوالو قوتونو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې نور په سيمه کښې د پښتون وژنې او اولس وژنې څخه چې په هر نوم سرته رسېږي، لاس واخلي.
د جګړې په ځائے دې د جګړې د ټولو خواوو سره د سولې او سياسي تفاهم په يو ګډ سياسي ميکانيزم کار پيل شي.

۲. د ډيورنډ د کرښې دواړو غاړو ته د پښتون قام څخه يو باصلاحيته قومي دوديزه جرګه راوبلل شي، تر څو په جګړه کښې د ښکېلو خواوو تر منځ د

پخلاینې او سیاسي تفاهم لپاره لاره هواره کړي او د دې تر څنګ په خپله سیمه کښې د موجوده ستونزو د حل لپاره مناسبې لارې چارې ولټوي.

۳. د افغانستان او پاکستان په حکومتونو کښې هغه سیاسي او جنګي ډلې چې تر اوسه پورې ئې په زرګونو سیاسي او ملي پښتانهٔ مشران او اولسي وګړي په بیلابیلو نومونو وژلي، بې عزته او سپک کړي دي او د پښتنو او نړیوالو ځواکونو تر منځ ئې د دښمنۍ فضا رامنځ ته کړې ده ،د حکومتي چارو څخه وویستل شي.

۴. په پښتنو کښې له پخوا څخه موجود ټولنیز او دودیز بنسټونه چې د ډېرو سیاسي او ټولنیزو ناخوالو مخه ئې نیولې وه او په وروستو کلونو کښې د بیلابیلو سیاسي او مذهبي جنګي ډلو او حکومتونو له خوا زیانمن شوي دي، مونږ غوښتنه کوو چې دغه بنسټونه بېرته فعال او تقویه شي.

۵. زمونږ په اند د ډیورنډ د کرښې دواړو خواوو ته د پرتو اولسونو اقتصادي بېرته پاتې والي څخه بیلابیلې جنګي ډلې د جګړې د دوام لپاره ګټه اخلي.



مونږ غوښتنه کوو چې نړیوال د سیمې او منطقې د ثبات په خاطر په دغه منطقه کښې په اقتصادي پروژو کښې فنډنګ وکړي. هم دارنګه نړیوالې مرستې پرته د دوهم لاس څخه نېغ په نېغه د دغه سیمو خلقو وګړو ته ورسېږي. دلته د دې خبرې ذکر په ډاګه کوو چې نړیوال کهٔ په نږدې او یا لرې راتلونکي کښې په دغه سیمه کښې سوله او ثبات راوستل غواړي نو په غېر د پښتنو د فعالې ونډې د اخستنې څخه ممکن نهٔ دي.

۶. زمونږ په اند ناپوهي او بې سوادي بله لویه ستونزه ده چې په دغه سیمه کښې ترې جنګي ډلې سیاسي ګټه پورته کوي.

مونږ غوښتنه کوو چې د ډیورنډ د کرښې دواړو غاړو ته د یو ځانګړي پروګرام او پلان مطابق د ښونځیو او پوهنتونونو جوړول پیل شي.

۷. مونږ وینو چې د ډیورنډ د کرښې دواړو غاړو ته پراتهٔ اولسونه په پښتو ژبه د رسنیو (مېډیا) د کموالي او جګړه مارو ډلو د پراخو تبلیغاتي پروګرامونو په نتیجه کښې ډېر ځوانان په ناپوهۍ او غېر شعوري ډول جګړه مارو ډلو سره یو ځائے کېږي.

مونږ غوښتنه کوو چې د دغه اولسونو ذهنیتونو د روښانه کولو لپاره د دوي په مورنۍ ژبه (پښتو) راډیویي، تلویزوني او لیکلي رسنیو ساحه پراخه شي.

۸. مونږ د ټولو جنګي ډلو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د ښونځیو او ښوونیز مرکزونه سوزول او ورانول او هم دارنګه د ټولګټو پروژو د بندولو څخه لاس واخلي . هره ډله چې دغه کار په هر

نوم کوي، مونږ ئې د هېواد او پښتون ملت دښمنان بولو.

دا پرېکړه لیک په بیلابیلو نړیوالو ژبو ژباړل کېږي. ټولو رسنیو، د ملګرو ملتونو سازمان، د ناټو مرکز، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او نورو اړوندو ځانګو ته لېږل کېږي.